الحَسَن والحُسَيْن سَيِّدا شَباب أهْل الجنة». "حسن او حسين د جنتيانو د ځوانانو سرداران دي

له ابو سعيد الخدري رضى الله عنه څخه روايت دى وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:
"«الحَسَن والحُسَيْن سَيِّدا شَباب أهْل الجنة». "حسن او حسين د جنتيانو د ځوانانو سرداران دي.
[صحيح دى] [الترمذي او احمد روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې د هغه دوه لمسيان؛ حسن او حسين چې د علي بن ابي طالب او د رسول الله صلى الله عليه وسلم لور فاطمې رضي الله عنهم زامن دي، دوى دواړه په فضيلت کې د هر هغه ځوان باداران دي چې په ځوان کې مړ شي، يا دا چې دواړه د ټولو جنتي ځوانانو سرداران دي، پرته له انبياوو او خلفاى راشدينو څخه.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/11169